# د عبدالباري اسیر اصلاحي شاعري ته یوه لنډه کتنه

Nasiba Bibi[1]
Dr. Nasibullah Semab[2]

**Abstract:**

This study reports a laconic review of the poetic works of Abdul Bari Aseer, an eminent figure among poets of south Pashtunkhwa. Data reveals that a note of social responsibility, self-conscious, runs through Aseer’s poetic art dealing with different social issue as such; corruption, bribery, dowry, moral decline, drug addiction, ignorance, injustice, and the erosion of cultural and ethical values. Aseer satirizes social evils using symbolic elements for ethical reformation and social awareness. His poetic works focuse on social justice, honesty, the need for learning, respect for women, self-responsibility and divine values. Aseer is not only a critic but he is also a preacher of practical life, moral values, and human empathy. Hence, findings reveal that Aseer’s poetry is of reformative nature that teaches ethical principles in a pretty literary frame. His poetic works may have significance position in Pashto literature.

**Keywords:** Aazhdaha, khwakhzhi, halkwan, Mairmano, Wadona, Walwar, Lonho, gato, Bak, Tak, Bang, shundhi, Sahar.

سهېلي پښتونخوا تل د پښتو ادب يوه زرخېزه او د علم و فن د مينوالو سيمه پاته شوي ده، چي د خپل تاريخي، کلتوري او ادبي ميراث له کبله يې د پښتو ادب په ترقۍ کي بنيادي رول لوبولی دی،دا سيمه له پخوا راهيسې د داسي شخصياتو کور پاته شوی دی، چي نۀ صرف د خپلې خاورې د کلتور استازي يې کړي ده، بلکې د پښتو ژبي د ودي او ترقۍ دپاره يې هم نۀ ستړي کېدونکي هڅي کړي دي، د سهېلي پښتونخوا د ادبي ماحول ځانګړتيا دا ده چي دلته د شعر، ادب، نقد، تذکره نويسۍ او تحقيق بېلابېل رنګونه يو ځای ليدل کېږي او هر نسل پکي د خپلي زمانې د فکري غوښتنو اظهار کړی دی.په دې لړ کي د

1 M.Phil Sholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta
2 Professor, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

عبدالباري اسیر نوم هم د ویاړ وړ مقام لري، نوموړی نۀ صرف د سهېلي پښتونخوا، بلکې د ټول پښتو ادب په پیاوړو شاعرانو کي شمېرل کېږي، عبدالباري اسیر هغه شخصیت ؤ، چي د خپل قلم او فن له لاري يې پښتو ادب ته نوی رنګ ورکړ، د هغه شاعري د ژوند د تجربواو د انساني احساساتو یوه ښه عکاسي کوي.،داصلاح پسندۍ موضوع د عبدالباري اسیر په شاعرۍ کي په خورا ښکاره او خوندور ډول څرګنده ده،اسیر په خپله شاعرۍ کي د معاشرې هر رنګه ناسور او بې لاري توب په ګوته کوي او له لوستونکي غواړي چي د اصلاح لاره خپلي کړي،هغه په ډېره ساده کله کله د طنز او عبرت په ژبه په دې معاشرتي مسائلو باندي رڼا اچوي او د هر فرد او ټولني د اخلاقو د ښو عادتو او انساني مسؤلیت یادونه کوي،د مثال په ډول د نن سبا ځوانان د فېشن او ظاهري نمائش تر اثر لاندي خپل اصلي سړیتوب او پښتنی شناخت له لاسه ورکوي،ځکه خو اسیر د خپل طنزیه او تنقیدي شعور له لاري د اوسنۍ ټولني دې اخلاقي تشي ته داسي اشاره کوي،لکه چي وائي:

"څۀ بې حال وي د غیرت په نن سبا کي
چي هلکوان په رنګ د نجونو معلومېږي" (1)

د اسیر صاحب له نظره د یوې معاشرې اصلاح د کور له اصلاح څخه شروع کېږي او هغه کورونه چي د اخلاقو رڼا پکي ژوندۍ وي، هغه د معاشرې د رڼا مثالونه دي،دلته د مېرمني رول ته اشاره کوي،لکه چي وائي:

"په خندا مینه خلوص چي کله ورسې
صفا کور د ښو مېرمنو معلومېږي"(2)

اسیر د خپلي معاشرې یو ډېر خطرناک او لوی ناسور رشوت په خورا پیاوړي او هنري انداز انځور کړی دی،هغه ظالم نظام ته ګوته نیول شوي ده چي د حرامو لارو د شتمنېدو په لټه کي ده او د ملت د وجود وینه څښي، دلته صرف یو اخلاقي نصیحت نۀ دی، بلکې د هغۀ اصلاح پسند فکر ښکاره کوي،اسیر صاحب د پستې او خوږې ژبي څخه کار اخیستی دی،د معاشرې د استحصال او اقتصادي فساد یو زبردست تصویر وړاندي کوي.لکه چي وائي:

"رشتوت وینه سو معشیت ټوله خوري
سرمایه تل د مملکت ټوله خوري"(۳)

هم دې رشوت د عدالت عدل او انصاف هم خوړلی دی:اسیر وائي:

"چي مخ نیوی یې دلته ونیسي اوس
عدل و انصاف د عدالت ټوله خوري"(۴)

اسیر په خپله معاشره کي د لور د مقام او اهمیت په اړه هم ډېر احساس لري، هغه لور د رحمت نخښه ګڼي،نۀ د سودا او معاملې وسیله، خو د ولور په رواج باندي هغه سخت خفه ښکاري،اسیر ته دا دردناکه خبره ده چي د یوې لور قدر وقیمت دي په لکو کي سنجول کېږي، حقیقت دا دی چي یوه لور د مور او پلار د زړۀ ټوټه ده،اسیر صاحب په ډېر درد سره د هغه پلار تصویر وړاندي کوي چي د خپلي لور د نکاح پر وخت د پیسو حساب کوي، هغه غواړي اولس ته دا شعور ورکړي چي د لور عزت د سرو زرو نۀ دی، بلکې د میني او انساني وقار په احساس کي نغښتی دی،اسیر ولور د پښتني معاشرې د هغه بیمارۍ په توګه وړاندي کوي، چي انسانیت، عزت او د خاندان د جوړښت روح له منځه وړي،د ولور پر ضد یې خپل احتجاج او اصلاح فکر ډېر په هنر سره څرګند کړی.لکه چي وائي:

"ودونه به څۀ وکړي چي ولور نن په لکو سو
ځوانان ورته عاجزه ټول کارونه د پېسو سو"(۵)

د دې غزل په بل شعر کي بیا هغه د ښادۍ پر موقعو د بېځایه لګښتونو او د مصنوعي خرڅ پر ضد تنقید کوي،چي شتمن خلک د ښادۍ په نوم بېځایه خرچې کوي او غریبان یې نۀ شي کولی بیا نو شرمیږي.وائي

"بې ځایه بې درکه د ښادۍ په دا موقعو کښې
وېشل و لوی او کم ته د لنګیو د شالو سو"(۶)

هم دا ولور دی چي ځوانان د وطن پرېښودو ته مجبوري.د دې غزل په دې لاندي شعر کي هم د معاشي مسائلو او د ولور له امله د ژوند د درنو بارونو څرګندونه کوي.لکه چي وائي:

"زاړۀ په مزدورۍ کښې سو پر تن به وړي ګرمي اوس
ځوانان سو درپه در شومه د لیري وطنو سو
دنیا ورته حیرانه تر مشرقه تر مغربه
عجب رسم و رواج دلته د دغه پښتنو سو"(۷)

د غزل په مطلع کي اسیر په ډېر ویر او درد سره د پلارونو د زړونو سختي

ته اشاره کوي.هغه د لوښو د تقدير له وجې اندېښمن دی، چې څنګه د محبت پر ځای د روپيو بازار يې تود کړی دی.

"اسيره! نه پوهېږم چې د لوښو به څهٔ حال وي
د کاڼو په شان سخت زړونه چې نن يې د پلرو سو"(۸)

علم د انسان د ژوند تر ټولو لوی زينت او کمال دی،دا هغه رڼا ده چې د جهالت تيارې له منځه وړي او انسان ته د فکر، عمل او اخلاقو لاره ښايي، علم د انسان شخصيت ته شعور، بصيرت او وقار ورکوي، د قامونو د ترقۍ بنياد ږدي او د انسان او خدای تر منځ د پېژندګلوي پُل جوړوي،څوک چې علم لري، هغه د ژوند په هر ميدان کې عزتمن وي، ځکه علم د مال د نسل او د واک څخه هم برتر دی،علم انسان ته دا توان او قوت ورکوي چې د حق او باطل تر منځ فرق وپېژني او د خپل او د ټولنې د ښهٔ ژوند دپاره مبارزه وکړي. د همدې کبله علم د هر تمدن روح بلل کېږي او د هر انسان دپاره د نجات تر ټولو ښکاره لاره ده،عبدالباري اسير د علم اهميت ته په خپلو شعرونو کې ډېر ځايه اشاره کړې ده. اسير علم د مومن هغه ورک شوی شی ګڼي، چې که يې تر لاسه کړي، د لمر او ستوري په څېر به روښانه شي،دلته د هغه حديث څخه الهام اخلي چې "الحکمة ضالة المؤمن" — يعنې "حکمت (يا علم) د مومن ورک شوی مال دی، چې هر چېرته يې پېدا کړي، بايد ترلاسه يې کړي" لکه چې وائي:

"د مومن ورک شوی شی علم اسيره!
که پېدا کړي ځان به لمر وستاره کړي"(۹)

په دې لاندې شعر کې بيا عبدالباري اسير د علم او عمل تر منځ رابطه په ګوته کوي،د دهٔ په خيال، صرف علم تر هغه پورې ګټور نهٔ دی تر څو چې ورسره عمل نهٔ وي ملګری، هغه انسان ته د اصل کمال مقام د علم او عمل د يو ځای کولو په صورت کې ورکوي.لکه چې وائي:

"چا چې علم و عمل دواړه کړلو جمع
زما په خيال وفکر اصل کمال هغه"(۱۰)

په دې لاندې شعر کې بيا اسير د علم او تجربې تر منځ د اهميت خبره رااخلي، هغه د دانشورانو خبره وړاندې کوي چې تر علم بهتره تجربه ده، يعنې هغه پوهه چې انسان په ژوند کې د خپلو عملي تجربو له لارې ترلاسه کوي، د کتابي علم

ځخه زیاته ګټوره ګڼي،د اسیر صاحب دا نظر دا څرګندوي چي که علم د لوست له لارې ترلاسه کېږي، نو تجربه د عمل او ژوند له لارې پخېږي او دا پخه پوهه انسان ته د حقیقي بصیرت احساس ورکوي، دا معنا لري چي انساني تجربې د ژوند واقعي سکول دی،چي علم ته احساس او عملي رنګ ورکوي.لکه چي وائي:

"دانشور خلک اکثره دغه وائي
چي تر علم ښه بهتره تجربه ده"(۱۱)

عبدالباري اسیر د انساني ژوند یو ډېر مهم اخلاقي او عملي اړخ ته هم اشاره کوي،هغه عمل دی د حلال رزق ګټل،عبدالباري اسیر په خپلو شعرونو کي د خوشحالۍ او سکون سرچینه د حلال رزق په لاسته راوړلو کي ګڼي، اسیر دا باور لري چي د انسان حقیقي خوشحالي هغه وخت ممکنه ده کله چي د دهٔ ګټه او روزي د حلالو وسایلو له لارې تر لاسه شي، دا فکر نهٔ صرف د اسلامي اخلاقو تسلسل دی، بلکې د ښېښتني ژوند د کار، عزم او غیرت فلسفې هم څرګندوي.دلته دا پیغام ورکوي چي د عزتمن ژوند راز د حلال رزق په ګټلو کي نغښتی دی.لکه چي وائي:

"په ژوندون کښې وي اکثر خوشحال هغه
چي و ځان ته رزق ګټي حلال هغه"(۱۲)

دلته یې بیا د اقتصاد او اخلاقو تر منځ تړاو په ډېر ښکلي انداز څرګند کړی دی،د هاغه تجارت مخالفت کوي چي د حرامو یا ناپاکو لارو ځخه ترسره کېږي، او دا خبره هم کوي چي د داسي کاروبار په ګټه او شتمنۍ کي هېڅ ډول برکت نهٔ وي، اسیر دلته د صداقت، شفافیت او حلال رزق د اهمیت درس ورکوي او دا پیغام هم ورکوي چي که د پېسو تجارت د انصاف او حلالو اصولو پر بنیاد نهٔ وي، نو هغه نهٔ صرف بې برکته وي بلکې د انسان د روح د سکون او ارزښت د زوال سبب هم ګرځي، دا لاندي شعر هم د هغهٔ فکري تسلسل یوه برخه ده چي پکي د انسان د عمل او اخلاقو تر منځ توازن ته اهمیت ورکوي.وائي:

"برکت نهٔ لري جانانه! تر هغو تجارت
چي ښهٔ حلال او صفا نهٔ یي د پېسو تجارت"(۱۳)

لکه چي موږ ټولو ته معلومه ده چي نشه یو ډېر خطرناک عمل دی، ځکه دا د انسان عقل، شعور او وجدان له منځه وړي، هغه څوک چي نشه کوي، د خپل ځان، خاندان او معاشرې د تباهۍ لور ته روان وي، نشه انسان بې‌غیرته،

بېاحساسه او بېمسؤولیته ګرځوي،چي نۀ د خپل عزت احساس لري او نۀ د بل د حق قدر کوي، دا عمل د بدن روغتیا له منځه وړي، د مال تاوان کوي او د معاشرې امن ګډوډوي،په اسلامي او اخلاقي لحاظ هم نشه حرام عمل ګڼل شوی دی،ځکه دا د انسان د فکري ازادۍ او ځواک خاتمه کوي،هر هوښیار انسان کوشش کوي چي له دې ناسور څخه ځان او معاشره وساتي او د پاک، هوښیار او باعزته ژوند لارو اختیارولو درس ورکوي،عبدالباري اسیر هم د ټولنیز شعور او اصلاحپسند فکر خاوند دی،هغه نشه صرف د یو شخص ذاتي عیب نۀ ګڼي،بلکې د معاشرې د اخلاقي زوال یو خطرناک علت یې بولي، د دۀ په وینا ،نشه د انسان عقل، هوش او شعور له منځه وړي او انسان د خپل اختیار څخه بېبرخي کوي،دا هغه حالت دی چي انسان د وجدان او فکر واک له لاسه ورکوي او د ځان او نورو دپاره خطر جوړوي. اسیر نشه تر مار هم خطرناکه یاده کړې ده.لکه چي وائي:

"منم چي مار نۀ وي،تر مار وي خطرنامه نشه
ولي سړی کړی ډېر بې سده او بې باکه نشه
ځان یې په خپل اختیار کښي نۀ وي،داسي څوک عجبه
وهي اکثر ځان یو د بل او تاک له تاکه نشه"(۱۴)

اسیر په هنري او فلسفي انداز سره د معاشرې اصلاح غواړي، د ځوان نسل پام دې ته را اړوي چي نشه نۀ صرف د بدن تباهي ده، بلکې د خاندان، معاشرې او ملت د تباهۍ سبب هم ګرځي،اسیر غواړي خپل اولس د غفلت له خوبه راویښ کړي او د هوښیارۍ او عزت په لاره یې روان کړي.په دې لاندي شعر کي هم د نشې په ضد شعار ورکوي:لکه چي وائي:

"هغه د ځانه څخه ورک سي بد اخلاقه سي ډېر
شونډې اکثر چي پر پیاله شراب و بنګ لګوي"(۱۵)

عبدالباري اسیر د بیدارۍ او هوښیارۍ پیغام هم ورکوي،دلته هغه انسان ته اشاره کوي چي ژوند یې په سستي، بېپروایۍ او غفلت کي تېرېږي،لکه چي وائي:

"ټوله شپه دي په خوب تېره کړه غافله
اوس خو پورته شه همت وکړه سهار دی"(۱۶)

لکه څنګه چي د پښتنو د وطن حال دی، د جګړو، تاوتریخوالي او وینو

تویېدو ته هم د اسیر په شاعرۍ کي اشارې شوي دي، وایي چي په نن حالاتو کي هر څۀ ګران شوي دي خو د ویني ارزاني ډېره ده،لکه چي وائي:

"هر څۀ دلته ګران سو خو د ویني ارزاني سوله
شاوخوا فضا په دغه وجه الواني سوله"(۱۷)

عبدالباري اسیر په خپلو شاعرانه خیالاتو کي د انساني ژوند هغه اصول بیانوي چي د معاشرې د اخلاقي او فکري ترقۍ سبب ګرځي، د هغه شاعري صرف د الفاظو ښکلا نۀ ده، بلکې د ژوند د حقیقتونو او عملي تجربو ترجماني کوي،اسیر هڅه کوي چي انسان د ځانغرضۍ، غرور او بېرحمۍ له دېواله راوباسي او د اخلاص او خدمت دروازې ورته پرانیزي،د هغۀ د فکر اساس د انساني ارزښتونو اومعاشرتي شعور پر بنیاد ولاړ دی،په همدې فکري تسلسل کي هغه د انسان د کردار د اصلاح دا درس ورکوي چي سړی باید د نورو دپاره د آسانۍ وسیله وګرځي، نۀ چي مسلې جوړي کړي، ځکه د ژوند اصلي خوند په خدمت او نرمتیا کي دی.لکه چي وائي:

"مخ ته د بل خاموش دېوال د ځانه مه جوړوه
چي خلګ تېر کړې ځان کړه تۀ د دروازې په مثال"(۱۸)

دا لاندي شعر هم د عبدالباري اسیر د لوی فکر او معاشرتي احساس څومره ښکلی مثال دی،هغه څومره په ساده خو خوندور انداز کي د انسان له لاسو د ماحول د تباهۍ درد بیانوي،د درختو پرېکول په اصل کي د فطرت ښکلا له منځه وړل دي او اسیر دا حقیقت د یو پیغام په شکل وړاندي کوي،چي نۀ صرف د ماحول ساتني غوښتنه ده، بلکې یو اخلاقي او فکري درس هم دی، چي انسانان دي د خپل ژوند د توازن او بقا د بنیادي عناصرو درناوی وکړي،د دې شعر له لاري اسیر د فطرت د قدر و قیمت او د انسان د بېپروایۍ پر ضد یو اخلاقي ږغ پورته کړی دی:

"څۀ به کښېني له دې پسه و سایو ته
خپلي درختي چي په خپلو لاسو کاږي"(۱۹)

لکه څنګه چي موږ ټولو ته معلومه ده چي پرده زموږ د اسلامي او پښتني کلتور یو مهم اخلاقي قدر دی، چي عزت، حیا او وقار بلل کېږي، پرده صرف د لباس نوم نۀ دی، بلکې دا د کردار او تربیت یوه شکل هم دی چي د ښځي د درناوي

او د معاشرې د پاکيزګۍ سبب ګرځي، هغه معاشره چې د پردې قدر کوي، هلته اخلاقي توازن او د ښځو امن زيات وي، عبدالباري اسير هم په خپل شعر کې د پردې د اهميت يادونه کړې ده او دا پيغام يې ورکړی دی چې بې پردګي د پښتنې ټولنې د روایاتو او ديني اصولو خلاف عمل دی. د حجاب رعايت د يوې ښځې د عزت ساتنه ده او دا د هغې شخصي ازادي نهٔ محدودوي، بلکې د هغې وقار ته نوره هم لوړه معنا ورکوي.لکه چې وائي:

"داسي لځ مخ او بې پردې د کوره ځنګه وزي
پښتنې پېغلې خو پر مخ باندي حجاب ګرځوي"(۲۰)

په دې لاندي شعر کې هم عبدالباري اسير د اخلاقي او ديني تعليماتو يو بل ډېر مهم اړخ بيان کړی دی. هغه وايي چې څوک د نورو عيبونه ښکاره کوي، يو وخت به د دهٔ خپل عيبونه هم د خلګو مخ ته راووځي. دا يو الهي او اخلاقي قانون دی چې د انسان بد نيت او بد عمل بېرته د دهٔ پر ځان راګرځي.اسير دلته هم خپل د اصلاح‌پسند فکر څرګندوي او د زغم، پرده‌پوشۍ او اخلاقياتو دعوت ورکوي،د بل عيب پټول نهٔ صرف د انسان د کرامت ساتنه ده، بلکې دمعاشرې د اخوت او اعتماد د بقا وسيله هم ده،اسلام هم دا درس راکوي چې څوک د بل عيب پټ کړي، الله د دهٔ عيبونه پټوي،اسير دا پيغام په ډېر خواږهٔ او هنري انداز وړاندي کړی دی.لکه چې وائي:

"خپل عيبونه به يې ټوله هم څرګند سي
چې عيبونه پټ د خلګو څوک ښکاره کړي"(۲۱)

لکه څنګه چې په تېرو پاڼو کې ذکر وشو نو دلته هم د دوو هغو عادتونو يادونه کوي چې زموږ په قبائلي معاشره کې د اخلاقي انحطاط او کورنيو شخړو لوی لامل ګرځي،بې‌پردګۍ او په کورونو پسې خبر وړل، اسير صاحب د حيا او د کور د احترام اهميت ته اشاره کوي، د دهٔ په خيال هغه نجونې يا مېرمنې چې بې‌حيايي کوي او په سړکونو باندي په داسي انداز سره ګرځي چې د کورونو د عزت له معيارونو سره برابر نهٔ وي، نو د معاشرې د ارزښتونو د کمزورۍ لامل کېږي.

"چې بې ستره راوتلې وي له کوره
د سړک د دغه نجونو څخه زغله"(۲۲)

په دويم شعرکې د هغو ښځو يادونه کوي چې د يو کور حال بل کور ته

وړي، يعني د غيبت، توپير اچولو، خبر خورولو او کورني رازونه افشا کولو عادت لري. اسير باور لري چې دغه ډول کړني د کور د امن، د کورنۍ د يووالي او د ټولني د اخلاقياتو دپاره يو خطرناک ناسور دی،د دۀ په فکر دا مېرمني نۀ صرف خپل کور، بلکې د نورو کورونه هم ګډوډوي، اختلافات رامنځته کوي او د خلګو تر منځ کرکه او بدګماني خپروي.

"چې د يوۀ کوره و بل ته وړي حالونه
هم له دغسي مېرمنو څخه زغله"(۲۳)

په دې لاندي شعرونو کي هم عبدالباري اسير د اصلاح يو بل ډېر خوندور او د خپلي تجربې په رڼا کي پيغام وړاندي کوي، هغه د انسان باطني حالات په ګوته کوي او کوشش کوي چې لوستونکي د هغو ناروغيو څخه خبر کړي چې په خاموش ډول د انسان ژوند، عزت، ذهن او معاشرتي مقام له منځه وړي.لکه چې وائي:

"حرص، حسد و غم و تاته به طوفان غوندي شي
بيا به دي تراټي پر سينه د يو ګرېوان غوندي شي"(۲۴)

په دويم شعر کي بيا د عمل په اهميت ټينګار کوي، وايي: پام کوه چې داسي کارونه ونۀ کړې چې سبا يې په خپله افسوس درته پاته شي،د دې مقصد دا دی چې انسان د خپل عمل مسوول دی او هر څۀ چې وکري، د نتيجې بار يې هم خپله د دۀ پر اوږو راځي،دا هم د ځان اصلاح او د انساني اخلاقو د ساتلو مهم پيغام دی.

"بيا به لاسونه دواړه مروړې ګله! پام کوه ډېر
چې په تحفه کي خپل عمل درته ارمان غوندي شي"(۲۵)

دريم شعر کي بيا د ژوند د يو ډېر عملي تدبير يادونه کوي.اسير وايي:

"په ژوند کي داسي دروازه مه خلاصوه دلبره!
چې بندول يې په جهان کي اخر ګران غوندي شي"(۲۶)

دلته ويل شوي دي چې په ژوند کي داسي دروازه مه خلاصوه چې بېرته يې بندول په دنيا کي ډېر ګران شي،مراد ورڅخه هغه ټول کارونه،ګامونه، عادتونه او پرېکړې دي چې يوه شيبه غفلت له انسانه وشي، خو بيا يې د تاوان بنه ډېره لويه وي،اسير دلته د انسان له بې‌پروا تګلاري منع کوي او د احتياط، عقل او اصلاح

فکر ته بلنه ورکوي.په دې لاندې غزل کې هم اسیر د اصلاح پسندي یو ډېر صفا فکر وړاندې کوي.لکه چې وائي:

"ژوند نعمت دی قدر د نعمت ښهٔ دی
خواخوږي مینه، خلوص او خدمت ښهٔ دی
اږدها به درته جوړ شي اخر پای
مر کړه مار ولي وایې شهوت ښهٔ دی
بې عقلي تر ټولو لویه غریبي ده
ځان ژغورل مدام د دغه لعنت ښهٔ دی
چې په سترو ځنګو وګټل شي ګرانه!
زما په خیال د انسان هغه دولت ښهٔ دی
چې د خدای احساس هر کله کې ځلېږي
دهغه حُسن هغه حقیقت ښهٔ دی
مصائب باید چې وزغمو په صبر
په هر کار کې ګرانه ګله! همت ښهٔ دی
د دنیا مینه د زړهٔ توره بلا ده
د زړهٔ نور دی دین،د دین محبت ښهٔ دی"(۲۷)

د اسیر صاحب د نظر مطابق، ژوند د خدای یو نعمت دی او د نعمت قدر په ښو اخلاقو، خواخوږی، محبت او خدمت کې ښکاري، اسیر غواړي انساني معاشره له داخله بدله کړي او د اخلاقو د پیاوړتیا له لارې د ښهٔ ژوند طرف ته یې بوځي،خلګ متوجه کوي چې که شهوت، حرص او نفسیاتي خواهشات په انسان غالب شي، نو نتیجه به یې د اژدها په شان تباهي وي.ځکه چې شخصي بدی وروسته په اجتماعي مشکلاتو بدلېږي،اسیر د علم، پوهې او عقل فضیلت بیانوي،دا هغه تصور دی چې تعلیم او شعور د هرې پرمختللې ټولنې اساس ګڼي،اسیر په زحمت سره ګټلې رزق برکت ګڼي، د حلالې روزی اهمیت بیانوي، او بیا د دین او جمال یادونه کوي،د هغهٔ د نظر مطابق، د دنیا مینه د انسان د زړهٔ توره بلا ده او په رښتیني توګه خوشحالي د ایمان، تقوی، صداقت او اخلاقو سره تړلې ده، په دې توګه هغه غواړي چې د انسان د داخلي نړۍ اصلاح وشي او د ټولنې ښه هم ورسره بدله شي،د صبر او همت سبق ورکوي،چې د ژوند د مشکلاتو

پر وړاندي د قوي کردار او مضبوط اخلاق نمایندګي کوي، عبدالباري په خپلو شعرونو کي د معاشرې د مسائلو یو زبردست تصویر وړاندي کړی دی،هغهٔ د معاشرې د بېړي ناخوالي په خورا واضح ډول په ګوته کړي دي،د اسیر شاعري صرف د فکري خوند دپاره نهٔ ده، بلکې لوستونکي ته فکري پوهنه او د اصلاح پیغام هم ورکوي،په دې توګه د دهٔ شاعری په عملي ژوند کي د اصلاح او شعوري اقدام الهام ورکوي،د اسیر صاحب د معاشرې د اصلاح غوښتنه صرف تنقید نهٔ دی، بلکې د اخلاقو او انساني مسؤلیت له لاري وړاندي کېږي. هغه د لوستونکي په ذهن کي دا شعور رامنځ ته کوي چي صرف د ګناهونو او ناسمو کړنو نیوکه کافي نهٔ ده، بلکې هر فرد باید د خپل کردار او عمل له لاري د معاشرې په ښهٔ کولو کي برخه واخلي،د دهٔ شاعري د اصلاحي فکر د خپرېدو دپاره د ادب یوه اغېزمنه وسیله ګڼل کېږي.

# حوالې


(۱) اسير، عبدالباري، لونګين خيالونه، شېدايان پښتو ادب پښنين، مخ۳۸۲
(۲) ايضاً
(۳) اسير، عبدالباري، د غرو لمريني څوکي، شېدايان پښتو ادب پښنين ۲۰۱۹، مخ۱۶۷
(۴) ايضاً
(۵) ايضاً، مخ۲۳۴
(۶) ايضاً، مخ ۲۳۴
(۷) ايضاً، مخ۲۳۴
(۸) ايضاً، مخ ۲۳۴
(۹) ايضاً، مخ۶۷۷
(۱۰) ايضاً، مخ۶۷۷
(۱۱) ايضاً، مخ ۱۲۶
(۱۲) ايضاً، مخ ۶۷۷
(۱۳) ايضاً، مخ۷۰۲
(۱۴) ايضاً، مخ۶۹۷)
(۱۵) ايضاً، مخ۶۸۵)
(۱۶) ايضاً، مخ۱۲۸)
(۱۷) ايضاً، مخ۱۷۵)
(۱۸) ايضاً، مخ۷۰۰)
(۱۹) ايضاً، مخ۶۹۹)
(۲۰) ايضاً، مخ۶۹۸)
(۲۱) ايضاً، مخ۶۷۷)
(۲۲) اسير، عبدالباري، لار د انتظار، شيدايان پښتو ادب پښنين، ۲۰۲۴، مخ۱۸۶)
(۲۳) ايضاً، مخ۱۸۶)
(۲۴) ايضاً، مخ۱۵۷)
(۲۵) ايضاً، مخ۱۵۷)
(۲۶) ايضاً، مخ۱۵۷)
(۲۷) ايضاً، مخ۲۴۳)